مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۰۲

لوړې زده کړې په کومه ژبه بنې دي؟

د طب په دويم صنف کې وو، زموږ د دورې ټولو محصلانو له يوه مضمونه شکايت کاوه چې هېڅ نه زده کېږي. دا هغه وخت و چې د تنظيمي جګړو په وجه اکثر مشران استادان له هېواده وتلي وو، په ډېرو ډيپارټمنټونو کې ځوان تازه کاره استادان هرکاره شوي وو. په دوی کې ځينې هماغه د پخوانو استادانو له خوا برابر شوي لکچر نوټونه تدريسول خو يو نيم په کې غوښتل خپل نوم د مولفانو په ليست کې ووينې. هغه چې زموږ ملګرو ځنې شکايت درلود، له همداسي استادانو څخه و. دغه استاد په انګريزي سم نه پوهېده، له بلې خوا د علمي رتبو شوقي و چې ژر پوهاند شي. د علمي رتبې د اخيستلو لپاره قانون دا و چې استاد به يو شی تاليفوي. ده هم د دې لپاره چې کتابونه يې ډېر شي، څو چپټرونه ترجمه کړل، خو داسې ترجمه چې په يوه ساده جمله کې به يې دوه درې فعلونه کتار کړي وو. په ډېرو جملو يې د سرې سر نه خلاصېده.
د طب پخوانی استادان په ژبه کې تکړه وو، هم يې يوه يا څو بهرنی ژبې ښې زده وې، هم يې په افغاني ژبو کې د ليکوالی استعداد درلود. دوی چې کله د استاد په توګه مقررېدل، بيا به يې د پيداګوژي او د تدريس د اصولو درسونه هم ويل. همدا وجه وه چې کتابونه يې په اسانی سره لوستل کېدل او زده کول يې هم اسانه وو. سرې هغه متن ښه زده کولی شي چې لوستل يې اسان وي او د سرې سر ورباندې خلاص شي. خو د دې کتابونو ستونزه دا وه چې معلومات يې د شل دېرش کاله پخوا معلومات وو، حال دا چې په ساينس او طب کې هر کال ډېر شيان نوي کېږي.
زموږ ځينې ټولګيوال چې د پاکستان له افغاني پوهنتونو راغلي وو، په فارسي نه پوهېدل او درسونه ټول په فارسي باندې وو. دوی سخت په عذاب وو، ځينو به يې نورو ته پيسې ورکولې چې فارسي نوټونه ورته پښتو کړي. بل غم دا و چې ځينې استادان بيا په پښتو نه پوهېدل.
اوس هم په هغو محصلانو کې چې له ولايتونو څخه کابل پوهنتون ته راځي، داسې کسان کم نه دي چې ټول مکتب يې په پښتو ويلی وي او په فارسي باندې زده کړه ورته ستونزمنه وي. همدې ستونزې زموږ محصلان مجبور کړي چې په مورنی ژبه د لوړو زده کړو غوښتنه وکړي.
خو ايا دا د ستونزې د حل لاره ده؟
موږ په پوهنتونونو کې ډېر داسې پښتانه استادان لرو چې په پښتو ليک لوست نه شي کولی ځکه چې پخپله يې هر څه په فارسي ويلي دي نو له درې ژبو استادانو به څنګه تمه وکړو چې په پښتو دې لکچر ورکړي. په کاناډا کې فرانسوي او انګليسي دواړه رسمي ژبې دي، هلته چې هر څوک په دولت کې مقررېږي مجبور وي دا دواړه ژبې يې سمې زده وي خو زموږ دولت نه داسې قانون لري او نه د ژبو پروا.
له بلې خوا په غربي نړی کې چې زموږ د علومو سرچينه ده، معلومات په چټکی سره نوي کېږي. هلته هر کال په هر علم کې سلګونه نوي کتابونه ليکل کېږي. موږ نه شو کولی دا ټول کتابونه وار له واره ترجمه کړو. زموږ ترجمې اکثراً مفاهيم هغسې نه شي افاده کولی څنګه چې په انګليسي کې افاده کېږي، سرې چې ځينې شيان په انګليسي کې لولي په مفهوم باندې يې پوهېږي خو خپلې ژبې ته يې نه شي اړولی. بله مساله دا ده چې زموږ محصل که په فارسي يا پښتو باندې درس ووايي نو د ده معلومات به د استاد په لکچر نوټونو پورې محدود شي. دی چې فارغ شي له افغانستانه پرته په هېڅ ځای کې کار نه شي کولی. نه يې ډيپلوم په بل هېواد کې چلېږي او نه يې پوهه.
که دولت غواړي د وطن راتلونکی نسل واقعي علم ته لاس رسی ولري نو بايد د پوهنتونونو ژبه انګريزي کړي. د دې کار ګټې دا دي:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څېر و لولئ

۱ .محصل خپل مسلک په انګریزي ژده کوي، بیا کولی شي د خپل مسلک نوي معلومات په انټرنټ کې وګوري، دی به د استاد په نوټونو پورې منحصر پاتې نه وي. هغه محصل ډېر تکړه وي چې له خارجي درسي منابعو څخه استفاده کولی شي.
۲ .که داسې وشي نو استاد به هم فعال شي، تکړه شاګرد استاد مجبوروي چې زیار وباسي، خپل معلومات نوي کړي او په زړو لکچرونو قناعت ونه کړي.
۳ .زموږ د پوهنتونونو اعتبار به زیاتېږي. زموږ مسلکي خلک به په نورو ملکونو کې هم د کار کولو جوګه کېږي.
۴ .که د پوهنتونونو ژبه مو انګلیسي شي په اسانی سره کولی شو نصاب یې نوی کړو. کولی شو د پوهنتون نصاب د سیمې د معتبرو پوهنتونونو له نصاب سره یو شان کړو.
۵ .بیا کولی شو د نورو ملکونو له پوهنتونونو سره خپل پوهنتونونه ونښلو، د تدریس لپاره د هغوی استادان رادعوت کړو او په خپلو پوهنتونونو کې معیار لوړ کړو.
څو موده مخکې ازادۍ راډیو له هغو افغان محصلانو سره مرکه کړې وه چې په کویټه کې درس وایي. د دې محصلانو شکایت دا و چې په انګریزي نه پوهېږي او هلته درسونه په اردو او انګریزي دي. زموږ د ښوونځیو په نصاب کې انګریزي په څلورم ټولګي کې شروع کېږي، تر دوولسمه پورې نهه کاله کېږي. دا د یوې ژبې زده کړې ته کافي وخت دی. خو که پوهنتونونه مو په انګریزي ژبه کېږي نو باید په ښوونځیو کې له نهم ټولګي وروسته د ساینسي مضامینو ځینې برخې په انګلیسي تدریس شي یا لږ تر لږه علمي اصطلاحات یې په انګلیسي کې پاتې شي. په کانکور ازموینه کې باید انګلیسي ژبه شامله شي او ونډه یې د ساینسي مضامینو سره برابره شي.
د هند او پاکستان د نسبتاً چټکې ودې یوه وجه به همدا وي چې هلته لوړې زده کړې په انګریزي دي.
ډاکټر صاحب سنګروال لیکلي وو چې په انګریزي باندې لوړې زده کړې، زموږ ژبې له پامه غورځوي او علمي مواد به په کې ورک شي. زه فکر کوم اوس هم موږ په خپلو ژبو کې علمي مواد نه لرو. که هغه فارسي کتابونه حسابوئ چې ایران یې چاپوي، هغه د انګریزۍ دومره نامانوسه فارسي ترجمې دي چې افغان او حتی ایراني محصل ته پوهېدل پرې ډېر ګران دي، زموږ محصل ته همدا اوس هم تر دغه فارسي، انګلیسي آسانه ده.
بله خبره دا ده چې په ایران کې ټول دولت د فرهنګ تر شا ولاړ دی، د کتابونو د ترجمې او چاپ لپاره دولت کار کوي او سب سایډي ورکوي؛ خو زموږ دولت وایي: «موږ هر څه خصوصي سکټور ته پرېښې دي.» نو زموږ لپاره به څوک کتاب ترجمه او چاپ کړي؟ ایران له دومره امکاناتو او غښتلي فرهنګي سیاست سره سره لا هم یوازې عمومي کتابونه ژباړي مثلاً په داخله کې «هریسن» او «سیسل» خو اختصاصي کتابونه نه شي ژباړلی مثلاً د کاردیولوژۍ یا د زړه په برخه کې درې خورا مهم کتابونه «هرټس»، «برونوالډ» او «ټوپول» دي چې یو یې هم په پارسي کې نشته او دا داسې کتابونه دي چې د زړه هر ډاکټر باید لوستی وي.
که موږ د ژباړې لپاره پیسې او ملاتړي هم پیدا کړو، دا کار نه شو کولای. په طب او انجینیرۍ کې څو تنه تکړه ترجمانان لرو؟ هغه چې په انګلیسي پوهېږي، د خپلې ژبې ګرامر یې نه زده او چې په خپله ژبه یو څه تکړه دی، انګلیسي کې پخ دی. داسې کسان چې په دواړه کې تکړه او مسلکي وي د علمي موادو زرمه برخه هم نه شي ژباړلی.
دوی به لا د یوه کتاب ترجمه نیمایي ته نه وي رسولی چې د هماغه کتاب نوی ایډیشن به راوتلی وي. د طب اکثر کتابونه په کال، دوه، درې او یا پنځو کلونو کې نوي کېږي، د طب هر تخصصي کتاب دوه درې زره مخونه لري؛ نو موږ اوس مهال نه شو کولی علمي کتابونه ترجمه کړو.
سنګروال صاحب د هند یادونه داسې کړې ده: «که د طب مثال ته تم شو، ولسمشر وایي چې هند او پاکستان کې په انګلیسي ژبه لوړې زده کړې کېږي څکه خو بریالی او پرمختللی روغتیایی نظام لري. خو احصائیې او لاسوندونه دې خبرې سره اړخ نه لګوي.
که د یو بریالي روغتیایي نظام معیار یوه روغه او صحتمنده ټولنه وي، نو هندوستان یو بریالی روغتیایي نظام بېخي نه لري. د هندوستان د خپلو شمېرو له مخې، همدا اوس دا هېواد د ۷۰ ملیونه ناروغانو ډېند دی. د دې ناروغیو ډېره برخه داسې ناروغۍ دي چې د عامه روغتیایي مالوماتو د اغېزمن وېش سره یې اسانه مخنیوی شوونی دی«.
ډاکټر صاحب سنګروال دغه پېره په انګریزي ژبې اچولې ده چې هندي ډاکټران د خپلو وطنوالو په ژبه نه پوهېږي، څکه خو دوی ته روغتیایي معلومات نه شي ورکولی او په نتیجه کې ناروغان ډېرېږي.
موږ په نورو ژبه کې د اکثرو طبي اصطلاحاتو انډول نه شو موندلی. دا موږ چې د اناټومي نومونې په خپلو ژبو ژباړو، کومه یوه یې پښتو یا پارسي ده؟ موږ د انګلیسي «Eye ball» په «کره عین» ترجمه کوو. د عامو خلکو لپاره د روغتیایي معلوماتو رسول، له دې سره بیخي اړه نه لري چې زده کړې مو په کومه ژبه کې کړې دي. هر څوک چې په خپله ژبه ګړېدلی شي، که پخپله د یوې مسألې پر مفهوم پوه شوی وي، هغه په خورا آسانه ژبه بیانولی شي. او بله دا چې د روغتیایي سیستم ناکامي، د نظام ناکامي ده، نه د مسلک.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ